



د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!




# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته : 2 اګست 2022 ميلادی

# زلفو کې !

ګل ته سرې ګوري
خپل ته سرې ګوري
د خاپوړې ځای وطن خپل
کابل ته سري ګوري
جانان چې په کې اوسي
تاج محل ته سرې ګوري
چې تيک پرې ښه ښکارېږي
وربل ته سرې ګوري
دخيالونو سمندر کې
غزل ته سرې ګوري
دځينو ځينو خلکو
چل ول ته سرې ګوري
هر څه به در خراب کړي
غوبل ته سري ګوري
دسپي پسي مه ځغله
متل ته سرې ګوري
مليار زلفو کې ورک شو
ځنګل ته سرې ګوري
***
عبدالحفيظ « مليار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی